د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 392

(5 – 11 سنبله 1401 هـ ش)

# د اسلامي امارت تر سلطه لاندې د هېواد یوه کلن وضعیت ته کتنه



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

د اسلامي امارت تر سلطه لاندې د هېواد یوه کلن وضعیت ته کتنه ........................................ 3

- مقدمه ........................................................................................ 3
- سیاسي وضعیت ......................................................................... 3
- اقتصادي وضعیت ....................................................................... 6
- امنیتي وضعیت .......................................................................... 8
- اجتماعي وضعیت ....................................................................... 11
- راتلونکې سیناریوګانې .................................................................. 13

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د اسلامي امارت تر سلطه لاندې د هېواد يوه کلن وضعيت ته کتنه

## مقدمه

په افغانستان کې د امريکا تر ملاتړ لاندې جمهوري نظام د ړنګېدو او د اسلامي امارت د واک ته رسېدو يو کال پوره شو. تېر کال (۲۰۲۱م) د اګست په ۱۵مه طالبان کابل ته ننوتل او تر کابو دوو اوونيو انتظار وروسته يې پنجشېر ولايت هم د جګړې له لارې ونيوه او په دې توګه يې جګړه په هېواد کې ختم شوې اعلان کړه. له دې سره اسلامي امارت خپل سرپرست حکومت هم اعلان کړ چې تراوسه له ځينو کوچنيو بدلونونو سره د هېواد کورنۍ او بهرنۍ چارې سمبالوي او لوړپوړې څوکۍ يې کابو ټولې د طالبانو غړو ته ورکړل شوې دي.

د پخواني حکومت ړنګېدل او د نوي سرپرست حکومت جوړېدل د افغانانو لپاره خورا ستر بدلون و او د افغانانو پر ژوند يې خورا زياتې مثبتې او منفي اغېزې وښندلې. دا اغېزې په ټولو سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او امنيتي برخو کې وې، چې تر ټولو برجسته يې په نړيواله کچه د افغانستان بيا ځلې سياسي انزوا، فقر او بشري بحران، ټولنيزې ستونزې لکه د ښځو او نجونو د کار او تحصيل قضيه او داسې نورې وې. په ورته وخت کې دغه ستر بدلون مثبتې اغېزې هم له ځان سره لرلې، چې د بېلګې په توګه يې د شل کلنې خونړۍ جګړې بندېدل او په ورځني ډول د سلګونه افغانانو د وينې تويېدو درېدل يادولی شو.

پوښتنه دا ده چې د يوه کال له تېرېدو سره اوس دغه ستر تحول څه ډول ارزول کېږي؟ په سياسي، اقتصادي، اجتماعي او امنيتي برخو کې مهم پرمختګونه، فرصتونه، ستونزې او ننګونې څه وې؟ او اوس د هېواد برخليک په دغو ټولو برخو کې په کوم لوري روان دی؟ په دې ليکنه کې هڅه شوې د تېر يوه کلن وضعيت په ارزونې سره دغو پوښتنو ته ځوابونه ومومو.

## سياسي وضعيت

په سياسي ډګر کې افغانستان په تېر يوه کال کې د ځينو مثبتو اړخونو ترڅنګ په ملي او نړيواله کچه له بېلابېلو ستونزو او ننګونو سره هم مخ و. له دغه تحول سره که له يوه اړخه تېره شل کلنه خونړۍ جګړه ختمه او په سياسي لحاظ د واک جزيرې ختمې شوې او نظام تر ډېره متمرکز شو؛ خو په ورته وخت کې د نړيوالو له لوري پر اسلامي امارت بنديزونو او د افغانستان سياسي انزوا بيا افغانانو ته نوې ستونزې او ننګونې راوټوکولې. لاندې پر هغو مهمو ټکو بحث کوو چې له سياسي پلوه په تېر يوه کال کې په ملي او نړيواله کچه پام وراوښتی و.

په تېر یوه کال کې د افغانستان او په ځانګړې توګه د اسلامي امارت د سرپرست حکومت لپاره تر ټولو ستره ننګونه د نړیوالو له لوري د دغه نوي نظام په رسمیت نه پېژندل کېدل وو. سره له دې چې په لومړیو کې داسې اټکلونه وو، چې ممکن ځینې هېوادونه به اسلامي امارت په رسمیت وپېژني، خو د یوه کال په تېرېدو سره د نړۍ هېڅ هېواد چمتو نه شو چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. که څه هم روسي چارواکو څو ځله داسې څرګندونې وکړې، چې ممکن د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژني.

سره له دې چې اسلامي امارت لا هم هېڅ هېواد په رسمیت نه دی پېژندلی، خو ځینې هېوادونه له هماغه لومړي سره له طالبانو سره تعامل ته ننوتل او ځینو هېوادونو د نوي سرپرست حکومت ډیپلوماتان هم په خپلو هېوادونو کې ومنل. د دې ترڅنګ د اسلامي امارت د لوړپوړو چارواکو ځینې پلاوي بېلابېلو هېوادونو ته په سفرونو هم ولاړل او د نړیوالې ټولنې له استازو سره د ملاقاتو ترڅنګ یې د افغانستان په اړه په نړیوالو کنفرانسونو او غونډو کې ګډون وکړ، چې له جملې څخه یې د ۲۰۲۲م د جنوري په ۲۳مه او ۲۴مه د ناروې په اوسلو کې او بیا د جولای پر ۲۶مه د ازبکستان په پلازمېنه تاشکند کې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانسونه یادولی شو، چې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست امیرخان متقي په مشرۍ لوړپوړو پلاوو پکې ګډون کړی و. همدا راز بېلابېلو هېوادونو یا خو له لومړي سره په کابل کې خپل سفارتونه ونه تړل او یا یې هم وروسته بېرته پرانیستل.

له طالبانو سره د نړیوالو په تعامل کې نرمي او تدریجي زیاتوالی په لویه کچه د افغانستان د غیررسمي یا ضمني (de facto) حکومت په توګه د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو په معنا بلل کېږي او داسې تحلیلونه شته دي، چې د علني (de jure) رسمیت پېژندنې مخه له یوې خوا د امریکا په څېر هېوادونو ممانعت ډب کړې او له بلې خوا د طالبانو ځینې اقدامات په تېره بیا د ښځو او نجونو د کار او تعلیم قضیه او ځینې فرمانونه د دې لامل شوي چې نړیوال پر طالبانو باور ونه شي کړای. د نړیوال مشروعیت او له د نړیوالې ټولنې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندلو ترڅنګ، په داخلي کچه هم یو شمېر داسې نیمګړتیاوې او ننګونې موجودې وې چې تر ډېره بریده یې د دغه نوي حکومت نړیوال مشروعیت هم تر سیوري لاندې راوستلی دی.

په داخلي کچه تر ټولو مهمه قضیه د نظام د نوعیت او راتلونکي برخلیک په اړه بشپړ ابهام دی. د اسلامي امارت له لوري په تېر سپټمبر کې اعلان شوی سرپرست حکومت لا هم په واک کې دی او که څه هم په لومړیو کې د اساسي قانون او ورته نورو اقداماتو په اړه د چارواکو له لوري ځینې څرګندونې کېدې، خو ورو ورو په دې اړه د حاکمو چارواکو چوپتیا لا زیاته شوه او د یوه کال په تېرېدو سره د نظام د راتلونکي په اړه تراوسه هېڅ ډول رسمي دریځ نه دی لیدل شوی. طالبانو د تېر اګست میاشتې تر تحول مخکې او وروسته داسې څرګندونې کړې وې، چې ګویا د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون به په لنډمهالې توګه عملي کړي او د اوږده مهال لپاره به د اساسي قانون د تسوید لپاره کمیسیون وګوماري خو لا هم په دې اړه هېڅ ګام نه دی اخیستل شوی، بلکې داسې تصور حاکم دی چې په لنډمهال کې په دې اړه کومه جدي تابیا هم نشته ده. د داخلي مشروعیت او د نظام د حقوقي حیثیت لپاره د لویې جرګې د رابللو غوښتنې هم موجودې وې، چې په کابل کې د علماوو د لویې غونډې له جوړېدو سره دا غوښتنې هم پیکه شوې، ځکه

داسې انګېرل کېږي چې طالبانو همدا غونډه د لويې جرګې په توګه وکاروله او په يو ډول يې د نوي نظام د مشروعيت وسيله وګرځوله، سره له دې چې دې غونډې ته کابو ټول د اسلامي امارت غړي او يا پلويان رابلل شوي وو او پر ملي قضاياوو هم بحثونه پکې ونه شول.

د ملي روغې جوړې او يوه داسې ټولشموله نظام رامنځته کېدل چې ټول افغانان پکې خپل ځان وګوري، په تېر يوه کال کې د اسلامي امارت د سياسي مخالفينو او نړيوالو تر ټولو مهمه غوښتنه وه. په دې تړاو طالبانو تل دا استدلال کړی چې له يوې خوا افغانان بياځلې پخواني فاسد چارواکي او قومي ټيکه داران نه غواړي چې بيا واک ته ورسول شي او له بلې خوا اوسنی نظام ټولشموله دی او د هر قوم او سيمې خلک په نظام کې برخه لري. د دې ترڅنګ، اسلامي امارت د سياسي مخالفتونو د تضعيف او په دې اړه شته نيوکو پيکه کولو لپاره د سياسي شخصيتونو د بيا راګرځېدو لپاره کميسيون جوړ کړ، چې له لارې يې د تېر نظام د لوړپوړو چارواکو په ګډون تراوسه تر ۱۰۰ زيات چارواکي بېرته هېواد ته راګرځېدلي دي. خو په دې اړه نيوکه دا ده چې طالبان هېڅ ډول سياسي فعاليت ته اجازه نه ورکوي، بلکې د علماوو په لويه غونډه کې د اسلامي امارت د رهبر شيخ هبت الله اخندزاده په ګډون ځينو چارواکو داسې څرګندونې وکړې چې پخوانيو چارواکو ته به هېڅکله واک ورنه کړي کوم څه چې هغوی ته د عزت ورکولو په معنا دي.

په ټوله کې تېر يوه کال ثابته کړه چې اسلامي امارت هېڅ ډول سياسي فعاليت ته اجازه نه ورکوي او نه هم د دولت په لوړپوړو څوکيو کې له طالبانو پرته پر بل چا باور کوي، او همدا لامل و چې د يوه نمايشي ګام په توګه يې په عدليه وزارت کې د سياسي احزابو رياست هم لغوه کړ او ځينې پخواني چارواکي په تېره بيا پخوانی ولسمشر حامد کرزی، په تېر نظام کې د ملي مصالحې د شورا مشر ډاکټر عبدالله، او د حزب اسلامي امير ګلبدين حکمتيار چې له لومړي سره په کابل کې پاتې شول د هېواد په سياسي برخلک کې هېڅ ډول رول نه لري او په بشپړه سياسي انزوا کې واقع دي.

که په لنډه توګه د تېر يوه کال د سياسي وضعيت ارزونه وکړو، نو ويلی شو چې افغانستان په نړيواله سطحه له سياسي انزوا سره مخ و او ځينو حوادثو نړيوالو ته له اسلامي امارت سره د لا ډېر منزوي کوونکي چلند د دوام پلمې هم په لاس ورکړې، چې په کابل کې د القاعده د مشر په نښه کېدل او د ځينو ملي قضاياوو او د ښځو اړوند مسائلو کې د طالبانو تعامل يې د بېلګې په توګه يادولی شو؛ خو بيا هم له طالبانو سره د ځينو هېوادونو غيررسمي تعامل هيله بښونکی و او د افغانستان د بشپړې انزوا کچه يې راکمه کړې وه. په داخلي کچه هم له يوې خوا د نظام د راتلونکي او د هېواد په سياسي برخليک ټاکلو کې د عامو افغانانو د رول او مشارکت په اړه ابهام او له بلې خوا له سياسي مخالفينو سره د يوې دوامدارې روغې جوړې د دروازو نه پرانيستل کېدل هغه ستونزې وې چې ټول افغانان يې اندېښمن کړي وو؛ خو بيا هم د ځينو سياسيونو بېرته راتګ هيله بښونکی و او له نظام سره يې د اختلافاتو د راکمېدو هيلې له ځان سره لرلې.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## اقتصادي وضعيت

دا چې په تېرو دوو لسيزو کې د هېواد اقتصاد په بشپړه توګه پر بهرنيو مرستو متکي و او د تېر کال له تحول سره له يوې خوا نړيوالې مرستې بندې شوې او له بلې خوا د امريکا له لوري د افغانستان بانک شتمنۍ کنګل شوې، نو له همدې کبله د هېواد د اقتصادي وضعيت په اړه په ملي او نړيواله کچه خورا زياتې اندېښنې موجودې وې. سره له دې چې په تېر يوه کال کې افغانان له اقتصادي پلوه له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخ وو؛ خو بيا هم ځينې داسې پرمختګونه او اقدامات هم وليدل شول، چې د هېواد اقتصاد يې له بشپړ سقوط څخه وژغوره.

د تېر کال په جريان کې ترټولو مهمه قضيه پر اسلامي امارت نړيوال بنديزونه او په امريکا او ځينو نړيوالو ارګانونو کې د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ او د هغو د آزادېدو لپاره هلې ځلې وې. که څه هم د کال په اوږدو کې پر افغانستان اقتصادي بنديزونه يو څه کم شول او په ځانګړې توګه د امريکا د خزانې وزارت داسې جوازونه صادر کړل، چې له افغانستان سره يې په مالي برخه کې راکړه ورکړه آسانوله؛ خو بيا هم په ټوليز ډول دغو بنديزونو او په ځانګړې توګه د افغانستان بانک د ارزي ذخايرو کنګل کېدو د هېواد پر اقتصاد ناوړه اغېزې وکړې، ځکه له يوې خوا په هېواد کې د نغدو پيسو د کمبود ستونزه رامنځته شوه او له بلې خوا له بانکونو څخه د نغدو پيسو اخيستل هم له محدوديت سره مخ وو، کوم څه چې نه يوازې افراد بلکې شرکتونه يې هم له ستونزو سره مخ کړل. اسلامي امارت له ډېرو هلو ځلو سره سره د تېر کال په جريان کې ونه توانېده چې دا کنګل شوې شتمنۍ آزادې کړي. که څه هم په دې وروستيو کې د امريکا او افغانستان ترمنځ ځينې داسې توافقات شوي وو، چې د دغو شتمنيو آزادېدو ته يې هيلې زياتې کړې وې، مګر په کابل کې د القاعده شبکې د مشر په نښه کېدو له پېښې وروسته امريکايي چارواکو بياځلې ټينګار وکړ چې دا شتمنۍ به آزادې نه کړي. له بله پلوه، تازه داسې راپورونه هم خپاره شوي چې د سپټمبر د يولسمې پېښې قربانيانو ته له دغو پيسو څخه د غرامت ورکولو غوښتنه هم د امريکايي محکمو له لوري رد شوې ده.

له افغانستان سره په محدود ډول د نړيوالې ټولنې مرستو هم د کال په اوږدو کې دوام درلود، چې تر ډېره يې دلته د اقتصادي بحران شدت راکم کړ او د ځينو نورو عواملو ترڅنګ يې د افغانستان بانکي سيستم هم له بشپړ سقوط څخه وژغوره؛ خو په ټوله کې باور دا و چې دا بشري مرستې او حتی د افغانستان بانک د شتمنيو آزادېدل به يوازې سر نه شي کولی په اوږده مهال کې د هېواد اقتصاد وژغوري او د بشري بحران بشپړ مخنيوی وکړي. همدا لامل و، چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې ديبورا لاينز د جنوري په ۱۹مه (۲۰۲۲م) د «افغانستان لومړنی اقتصادي کنفرانس» تر عنوان لاندې غونډه کې وويل، چې بشري مرستې اوږدمهالې حل نه دی او بايد د افغانستان اقتصادي بحران په بنسټيزه توګه حل شي.

په تېر کال په اوږدو کې بله مهمه قضيه د ډالر پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت قضيه وه، چې د عامو وګړو پر ژوند او په بازار کې د لومړنيو توکو پر بيو مستقيمه اغېزه لري. که څه هم د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته په سپټمبر مياشت کې افغانۍ د ډالر پر وړاندې خپل ارزښت په بې مخينې ډول وبايله او د يوې لنډې مودې لپاره د يوه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډالر بیه تر ۱۰۰ افغانیو پورته شوه، چې ورسره په بازار کې هم د لومړیو توکو بیې لوړې شوې، خو د اسلامي امارت له لوري د یو شمېر عاجلو اقداماتو له لارې ممکنه شوه چې د افغانۍ ارزښت ورو ورو د ثبات په لوري ولاړ شي. افغانستان بانک په تېرو څو میاشتو کې د افغانۍ د ثبات لپاره هره اوونۍ ۱۳ تر ۱۴ میلیونه پورې ډالر لیلاموي. د ځینو نورو اقداماتو ترڅنګ دا هم د دې لامل شوې چې په تېرو څو میاشتو کې د یوه ډالر ارزښت د ۸۸ او ۹۰ افغانۍ ترمنځ ثابت پاتې شي. دا په داسې حال کې وه چې په نړیواله کچه هم د روسیې او اوکراین د جګړې او ځینو نورو عواملو له کبله د ډالر ارزښت لوړ شو او په ځانګړې توګه د سیمې په نورو هېوادونو کې محلي پیسو د ډالر پر وړاندې خپل ارزښت وبایله.

په دولتي کچه د اداري فساد د کچې راکمېدل هم د دې لامل شول چې د هېواد ملي عواید زیات شي. سره له دې چې لا هم په ځینو ادارو لکه د پاسپورت ریاست کې د اداري فساد په اړه راپورونه شته دي؛ خو په مجموع کې داسې ښکاري چې د اداري فساد کچه خورا کمه شوې ده. همدا لامل دی چې د ځینو مهمو عایداتي ادارو عواید زیات شوي دي. د مالیې وزارت د خپلو کلنیو لاسته راوړنو په اړه جوړ شوي مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې په تېر کال کې یې په ټولیز ډول ۱۵۱ ملیارده افغانۍ عواید راټول کړي دي. د کانونو او پطرولیم وزارت هره اوونۍ د ۲۰۰ تر ۴۰۰ میلیونه افغانیو پورې د عوایدو راټولېدو خبر ورکوي او د دغه وزارت رهبری د خپلو کلنیو لاسته راوړنو اړوند راپور وړاندې کولو پر مهال وویل، چې په تېر کال کې یې ټولې ۱۳,۲ میلیارده افغانۍ د دولت خزانې ته سپارلې دي چې د تېر حکومت پر مهال د دغه وزارت له عوایدو سره اصلا د پرتلنې وړ نه دي. همدا راز د مخابراتو وزارت په خپل راپور کې ویلي چې د تېر کال په اوږدو کې یې کابو ۶,۹ ملیارده افغانۍ عواید راټول کړي چې د ورم کال په پرتله د ۱,۲ میلیارده افغانیو زیاتوالي ښودنه کوي. د ټرانسپورټ وزارت هم په خپل راپور کې ویلي چې په تېر کال کې یې ۴,۵ ملیارده افغانۍ د دولت خزانې ته سپارلې دي. همدا راز د نورو ادارو په عوایدو کې هم د اداري فساد د مخنیوي له کبله زیاتوالی راغلی دی.

له بلې خوا په حکومتي کچه هم په لومړي ځل د ۱۴۰۱ لمریز کال لپاره د هېواد ملي بودجه په بشپړه توګه له داخلي عوایدو څخه چمتو او تصویب شوه، چې په ټوله کې ۲۳۱ میلیارده افغانیو ته رسېږي. په دې بودجه کې ۲۰۳ میلیارده افغانۍ یې عادي بودجه او ۲۸ میلیارده افغانۍ یې هم انکشافي بودجه وه. د مالیې وزارت په وینا که څه هم په بودجه کې ۴۴ میلیارده افغانۍ کسر هم شته دی، خو د تنظیم شوي مالي پلان پر مټ به د کال تر پایه خپلو اهدافو ته ورسېږي. دا بودجه د تېر حکومت د کلنۍ بودجې نژدې نیمایي ده، ځکه په تېرو کلونو کې د هېواد ډېره بودجه د جګړې پر ډګر مصرفېده. په ۱۴۰۰ لمریز کال کې د هېواد ټوله بودجه کابو ۴۷۳ میلیارده افغانۍ وه چې ۳۱۱ میلیارده یې عادي او ۱۶۱ میلیارده یې هم انکشافي بودجه وه. د تېر حکومت د بودجې کابو ۷۵ سلنه برخه د نړیوالې ټولنې په ځانګړې توګه امریکا له لوري ورکول کېده.

له دې سره سره د تېر کال په اوږدو کې وخت نا وخت د بېلابېلو نړیوالو ادارو له لوري د افغانستان د اقتصادي بحران په اړه جدي اندېښنې ښودل کېدې او وخت نا وخت په افغانستان کې د بشري ناورین په اړه خبرداري ورکول کېدل



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او د دغه بشري ناورین د مخنیوي لپاره د مرستو راټولېدو غوښتنې کېدې. د بېلګې په توګه د ملګرو ملتونو سازمان د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) او د خوړو او زراعت اداري (FAO) د مې میاشتې په ۱۰مه د یوه راپور په خپرولو سره وویل، چې اوسمهال په افغانستان کې نژدې ۲۰ میلیونه تنه، چې د دغه هېواد نژدې نیمايي نفوس جوړوي، له سختې لوږې سره مخ دي. دغه راپور ښيي چې که څه هم نړیوالو مرستو په تېر ژمي کې تر ډېره د بشري ناورین مخنیوی وکړ، خو لا هم افغانان له سخت اقتصادي حالت سره مخ دي.

که په مجموعي توګه د تېر کال په اوږدو کې د هېواد اقتصادي حالت ته کتنه وکړو، نو ښکاري چې د اګست میاشتې د تحول له کبله رامنځته شوی بشري او اقتصادي بحران د کال په اوږدو کې تر څه بریده کنټرول شو او په ځانګړې توګه د ډالر پر وړاندې د افغانۍ ارزښت د ثبات په لوري ولاړ، کوم څه چې مستقیما په بازارونو کې د لومړنیو توکو پر نرخونو هم مثبته اغېزه لرله. د دغه وضعیت یو لامل د افغانستان لپاره د نړیوالو مرستو راټولېدل او افغانستان ته رسېدل وو. د دغه بحران نسبي کنټرول داسې مهال و، چې په وروستیو میاشتو کې  د روسیې او اوکراین د جګړې اقتصادي اغېزې هم په افغانستان کې محسوسې وې او له کبله یې د لومړنیو خوراکي توکو، تېلو او ګازو بیې لوړې شوې دي.

## امنیتي وضعیت

که له امنیتي پلوه په تېر یوه کال کې د هېواد د وضعیت ارزونه په لنډه توګه وکړو، نو ویلی شو چې په تېر کال کې د تېرې شل کلنې خونړۍ جګړې له پای ته رسېدو سره هره ورځ د سلګونه افغانانو د وینو توېېدو لړۍ په ځینو اړخونو کې بنده او په ځینو اړخونو کې راکمه شوې وه. که څه هم دا د تېر کال د تحول تر ټولو ستر مثبت اړخ و، خو بیا هم په هېواد کې د جګړې او ناامنیو پېښې په بشپړه توګه ونه دربدې او په ځانګړې توګه پر ملکي اهدافو او مذهبي ځایونو د داعش ډلې بریدونه هغه ستره ننګونه وه چې اسلامي امارت او په ټوله کې افغانان ورسره مخ وو.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما)، چې له ۲۰۰۹ کال راهیسې هر کال د ملکي افغانانو د تلفاتو شمېرې ثبتوي، د جولای په ۲۰مه (۲۰۲۲م) په خپل وروستي راپور کې وویل، چې په افغانستان کې د وسله والو نښتو له پام وړ کمېدو او امنیتي وضعیت ښه کېدو سره سره، د تېر اګست له ۱۵مې راهیسې په تېرو لسو میاشتو کې ۲۱۰۶ تنو ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې له ډلې څخه یې ۷۰۰ تنه وژل شوي او ۱۴۰۶ نور ټپیان شوي دي او ډېره دا مرګ ژوبله هم د داعش ډلې په بریدونو کې اوښتې ده. دا کچه د تېرو کلونو د تلفاتو په پرتله پام وړ کمه ده. د یوناما د ۲۰۲۱م کال د لومړیو شپږو میاشتو راپور مونډلې وه چې یوازې د دغه کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۵۱۸۳ ملکیانو ته د جګړو له کبله مرګ ژوبله اوښتې وه، چې ۱۶۵۹ تنه یکې وژل شوي وو او ۳۲۵۴ نور ټپیان شوي وو.

که څه هم د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد دا راپور تبلیغاتي وباله او رد یې کړ؛ خو حقیقت دا دی چې د تېر کال په اوږدو کې ګڼ داسې بریدونه او چاودنې شوې دي، چې پراخ تلفات یې لرل. د دې ترڅنګ ځینې هدفي

بریدونه هم د پخوا په پرتله په کمه کچه ولیدل شول او د هېواد په ځینو سیمو کې وسله وال مخالفتونه هم وو، چې تلفات یې هم له ځان سره لرل، خو دا تلفات بیا تر ډېره بریده د حکومت له لوري سانسور شوي دي.

که موږ د داعش ډلې له لوري یو شمېر سترو بریدونو ته کتنه وکړو، ښکاري چې د تېر اگست میاشتې له تحول وروسته تر ځو میاشتو پورې خونړي بریدونه شوي دي، خو په وروستیو میاشتو کې بیا داسې ښکاري چې داعش ډله تر ډېره حده ځپل شوې او بریدونه یې هم کم شوي دي. پر ملکي اهدافو د داعش ډلې د بریدونو له جملې ځنځه ډېر هغه یې د شیعه مذهبه او هزاره توکمه وگړو په سیمو کې شوي. د دا ډول بریدونو له پلوه تر ټولو خونړۍ میاشت اپرېل (۲۰۲۲م) میاشت وه. د اپرېل په ۱۹مه د کابل په دشت برچي سیمه کې پر یوه ښوونځي د برید په پایله کې ۹ تنه ووژل شول او تر ۵۰ ډېر نور ټپیان شول. له دغې پېښې ایله دوې ورځې وروسته په مزارشریف ښار کې پر لمونځ کوونکو برید وشو ،چې تر ۴۰ زیات کسان پکې ووژل شول او تر ۹۰ زیات نور ټپیان شول. یوه ورځ وروسته د اپرېل په ۲۲مه نېټه د کندز په امام صاحب ولسوالۍ کې په یوه خانقاه کې چاودنه وشوه چې په پایله کې یې ۳۳ تنه ووژل شول او ۴۳ تنه نور ټپیان شول. ځینو سرچینو د دې پېښې د قربانیانو شمېر ٦۰ تنه ښودلی و. له دغو پېښو وروسته د ملگرو ملتونو سازمان د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسیف) د اپرېل پر ۲۵مه وویل، چې یوازې په تېره یوه اوونۍ کې تر ۵۰ زیاتو ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. همدا راز د دې میاشتې په ۲۹مه نېټه د کابل ښار په دارالامان سیمه کې هم د اهل تصوف په یوه جومات کې د جمعې له لمانځه وروسته چاودنه وشوه، چې د ځینو سرچینو له قوله لږ تر لږه ۵۰ تنه عبادت کوونکي پکې ووژل شول. که څه هم امنیتي مسؤولینو دا شمېر کم اعلان کړ او په وینا یې چې په دې چاودنه کې ۱۰ تنه وژل شوي او ۳۰ تنه ټپیان وو؛ خو رویټریز خبري آژانس د روغتیایي چارواکو له قوله روغتونونو ته د ٦٦ مړو او ۷۸ ټپیانو د لېږدول کېدو خبر ورکړی و. په دې میاشت کې له هزاره توکمه سیمو پرته پر نورو سیمو کې هم بریدونه وشول، چې پراخه مرگ ژوبله یې له ځان سره لرله. د بېلگې په توگه د اپرېل په لومړۍ نېټه په هرات ښار کې چاودنې ۵ کسان ووژل او ۲۲ نور یې ټپیان کړل، که څه هم ویل کېږي چې دا برید هم د شیعه مذهبه وگړو په سیمه کې شوی و. همدا راز د اپرېل په ۳مه په کابل کې د صرافانو په لوی مارکېټ شهزاده سرای کې د لاسي بم چاودنه وشوه چې د کابل ایمرجنسي روغتون د مسؤولینو په وینا، له دغې چاودنې تر ۵۰ ډېر ټپیان دوی ته ور وړل شوي وو. درې ورځې وروسته د اپرېل په ٦مه د کابل ښار په پل خشتي جومات کې هم د ماسپښین د لمانځه پر مهال چاودنه وشوه او د رسمي آمارو له مخې تر ۱۰ زیات کسان پکې ټپیان شول. د دې میاشتې په ۲۷مه نېټه بیا د افغانستان په شمالي ولایت سمنگان کې ناپېژاندو وسله والو د ډبرو سکرو پنځه کارگر له موټره ښکته کړل او په ډزو یې ووژل.

د اپرېل میاشتې د بریدونو په څېر نور هم داسې ستر بریدونه شوي چې پراخه مرگ ژوبله یې لرله. د بېلگې په توگه د تېر اگست پر ۲٦مه په کابل هوایي ډگر کې د تخلیې د عملیاتو پر مهال خونړی برید چې لږ تر لږه د ۱۳ بهرنیانو په گډون ۱۸۲ تنه پکې ووژل شول. د اکتوبر په ۳مه په کابل کې عیدگاه جومات ته څېرمه د اسلامي امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد د مور د فاتحې په مراسمو کې برید وشو چې د راپورونو له مخې ۸ تنه پکې ووژل شول او تر ۲۰ ډېر



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پکې ټپیان شول. همدا راز د اکتوبر پر ۸مه او ۱۵مه په کندز او کندهار ولایتونو کې د اهل تشیع پر جوماتونو خونړي بریدونه وشول، چې په دواړو بریدونو کې کابو ۱۰۰ تنه ملکیان ووژل شول او تر ۲۰۰ ډېر نور ټپیان شول. د کندز په پېښه کې ۴۶ تنه ووژل شول او ۱۴۳ نور ټپیان شول، او د کندهار په پېښه کې هم ۴۷ تنه ووژل شول او تر ۷۰ ډېر نور ټپیان شول. د نومبر میاشتې په ۲مه نېټه بیا په کابل کې د سردار محمد داود خان پر پوځي روغتون د داعش بریدګرو له لوري ډلهییز برید وشو چې په پایله کې لږ تر لږه ۲۳ تنه ووژل شول او تر ۵۰ زیات پکې ټپیان شول. په وژل شوو کې د مولوي حمدالله نورزي په نوم یو جګپوړی طالب چارواکی، چې د کابل د قول اردو قوماندان و، هم شامل و. نورزی هغه کس و، چې د اګست پر ۱۵مه کابل ته له ننوتلو وروسته تر ټولو مخکې ولسمشرۍ ماڼۍ ته ننوت او د ولسمشر د مېز تر شا کېناست.

د تېر کال د امنیتي وضعیت په ارزونه کې نور مهم اړخونه هم شته دي. په ځینو سیمو کې تر بېلابېلو نومونو لاندې د وسله والو جبهو د فعالیتونو راپورونه وو، چې په ټوله کې یې د ننیتو له کبله اوښتو تلفاتو راپورونه تر ډېره سانسور کېږي. دغه راز د اګست (۲۰۲۲م) پر ۲مه نېټه په کابل کې د القاعده شبکې د مشر په نښه کېدل بله مهمه پېښه وه، چې د هېواد پر هوایي حریم د امریکا د بشپړ کنټرول او افغانانو ته د تهدیدونو د دوام ښودنه کوي او تر ډېره تصور هم دا دی چې امریکایي بې پیلوټه الوتکې هم د پاکستان له فضا څخه افغانستان ته داخلېږي. له همدې کبله د اسلامي امارت د دفاع سرپرست وزیر د کلني راپور وړاندې کولو په غونډه کې له پاکستان څخه غوښتنه وکړه چې خپل هوایي حریم د افغانستان پر ضد ونه کاروي. په اپرېل میاشت کې د پاکستاني جېټ الوتکو له لوري پر افغان خاوره بمباري هم بله مهمه پېښه وه، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ یې د پېچلو اړیکو ښودنه کوله او له کبله یې د ۲۰ ماشومانو په ګډون لږ تر لږه ۵۰ تنه ملکیان ووژل شول. دا برید هم د دفاع د سرپرست وزیر له لوري په کلکه وغندل شو او خبرداری یې ورکړ چې د خپلو ملي ګټو په خاطر یې زغم کړی او ممکن بل ځل د داسې پېښې په غبرګون کې زغم ونه کړي. همدا راز له ایران سره هم په سرحدي سیمو کې هم څو ځله د نښتو راپورونه خپاره شول، چې تر ډېره یې د دواړو لورو له خوا له ډیپلوماتیکو لارو د هواري هڅه وشوه.

که په تېر کال کې د هېواد د امنیتي وضعیت د ارزونې نتیجه ګیري وکړو، نو ښکاري چې په دغه کال کې هغه خونړۍ جګړه دربدلې وه چې په تېرو کابو شلو کلونو کې یې د ملکیانو ترڅنګ د جګړې په دواړو اړخونو کې هره ورځ سلګونه تنه قرباني کېدل. خو د داعش ډلې بریدونو او فعالیت او ترڅنګ یې له ځینو نورو نومونو لاندې د اسلامي امارت پر وړاندې د وسله وال مخالفت د دوام له کبله بیا هم افغانانو پراخ تلفات لرل. که څه هم اسلامي امارت تر ډېره وتوانېده چې دا وضعیت ورو ورو کنټرول کړي او نه یوازې داعش ډله وځپي بلکې نور وسله وال مخالفین هم له منځه یوسي، چې ښه بېلګه یې د هزاره توکي طالب قوماندان مهدي مجاهد وژل او د هغه تر قومانده لاندې وسله وال مخالفت ځپل دي. همدا راز په پنجشېر او شمالي سیمو کې هم ښکاري چې شته وسله وال مخالفتونه په خورا جدیت سره ځپل شوي او د نظام وسله وال مخالفین کوم ښکاره پرمختګ نه لري.

## اجتماعي وضعيت

په ټولنيز لحاظ تېر کال له هېواده په پراخه کچه د افغانانو وتل، د بشري حقونو د وضعيت په تړاو اندېښنې، د ښځو او نجونو د کار او تعليم قضيې او د بيان د آزادۍ نامناسب وضعيت هغه څه وو چې په نړيواله کچه يې پام ځان ته جلب کړی و. په ورته وخت کې د تېرو شلو کلونو پر مهال اخلاقي او فرهنګي ستونزې بيا د اسلامي امارت له واک ته رسېدو سره له منځه ولاړې او په ځانګړې توګه د بهرنيانو له لوري ملاتړ کېدونکو رسنيو له لوري له افغاني کلتور او د اسلامي شريعت خلاف نشرات بند شول.

د تېر اګست له تحول سره په هېواد کې د بې کارۍ او ځينو نورو ټولنيزو ستونزو له کبله يو زيات شمېر افغانان نورو هېوادونو ته د تګ په هڅه کې شول. د تېر نظام له سقوط وروسته يوازې په لومړيو شپږو اوونيو کې د تخليې د عملياتو په جريان کې ۱۲۴۰۰۰ لوستي افغانان له هېواده وايستل شول او له هغه وروسته د کال په جريان کې هم په تدريجي ډول لسګونه زره نور افغانان له هېواده وتلي دي. دې چارې له يوې خوا په هېواد کې دننه پراخه نهيلي رامنځته کړه او له بلې خوا د لوستو افغانانو او متخصصينو له وتلو سره د هېواد په رغونه کې د اوږده مهال لپاره يوه تشه هم رامنځته کړه.

له بلې خوا په تېر کال کې له شپږم ټولګي پورته د نجونو د ښوونځيو تړل کېدو په ملي او نړيواله کچه پراخه نارضايتي رامنځته کړه او دا قضيه له هغو عواملو هم شمېرل کېږي چې له کبله يې اسلامي امارت لاهم د نړيوالو له لوري په رسميت نه دی پېژندل شوی. د اسلامي امارت چارواکو په پرله پسې توګه ويلي، چې په هېواد کې د نجونو د تعليم مخالف نه دي او له همدې امله په پوهنتونونو کې د ښځينه زده کړو ته اجازه ورکړل شوې، او د ښوونځيو په کچه د زده کړو په برخه کې د شته ستونزو د هوارې لپاره پر حل لارو او مېکانېزمونو کار کوي. خو اوس د يوه کال له تېرېدو داسې ښکاري چې د نجونو د تعليم په اړه د اسلامي امارت د مشرانو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی او دوی تراوسه نه دي توانېدلي دا اختلاف له منځه يوسي. همدا لامل و چې د بهرنيو چارو وزارت سياسي معين شيرمحمد عباس ستانکزي څو ځله په مطبوعاتي غونډو کې په ښکاره ډول له دې چارې سره مخالفت وکړ او د نجونو تعليم ته د زمينې برابرولو غوښتنه يې وکړه. نوموړي يو ځل د مې مياشتې په ۲۲مه په يوه غونډه کې د وينا پر مهال وويل: «[اسلامي امارت] ښځو ته د زده کړو حق نه دی ورکړی. نن په افغانستان کې اصلا زده کړې شته نه دي. حقوق يې ورکړئ. ښځې به اسلام او شريعت چېرته زده کوي؟! ښکاره ده چې په مدرسه او مکتب کې به يې زده کوي». د هغه په وينا د حکومت دنده دا ده چې د فساد مخه ونيسي، نه دا چې د فساد له وېرې د يوه قشر له حقوقو سترګې پټې کړي.

د دې ترڅنګ په ټولنيزو مسائلو کې په دوامدار ډول د بشري حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو او په ټولنه کې د ښځو د رول او کار په اړه په نړيواله کچه پراخې اندېښنې موجودې وې. دغو اندېښنو او بحثونو هغه مهال لا ډېر زور واخيست چې کله د مې مياشتې پر ۷مه امر بالمعروف وزارت د ښځو د اجباري حجاب په اړه فرمان صادر کړ. په دغه فرمان کې له ښځو غوښتل شوي وو چې له اړتيا پرته له کوره ونه وځي او د اړتيا په صورت کې له نامحرمو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سرېیو سره د مخ کېدو پر وخت له سترګو پرته خپل مخونه هم پټ کړي. د دغه فرمان له مخې د تخلف په صورت کې د هغوی نارینه خپلوان له محاکمې بلکې له زندان سره مخ کېدای شي. په دې تړاو یوه قضیه دا ده، چې د حجاب د ډول په اړه د نظر اختلافات شته دي. یو شمېر علماء استدلال کوي چې د ښځو مخ او لاسونه د حنفي فقهې له مخې په حجاب کې شامل نه دي او طالبان د حجاب له مسائلو تندرو تفسیر لري.

د ښځو د اجباري حجاب په اړه د اسلامي امارت دغه فرمان په نړیواله کچه پراخ غبرګونونه وپارول او هغه یې د طالبانو د کړو ژمنو خلاف اقدام وباله. دغه غبرګونونه بیا هغه مهال لا پسې زیات شول، چې امر بالمعروف وزارت د افغانستان په تلویزیونو کې له ښځینه مجریانو او خبریالانو وغوښتل چې د پروګرامونو د وړاندې کولو پر مهال خپل مخونه هم د ماسکونو په وسیله پټ کړي. د مې میاشتې په ۲۳مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په یوه اعلامیه کې له طالبانو وغوښتل چې پر افغان ښځو خپلې محدودیت لګوونکې پالیسۍ "فورا برعکس" کړي. د امنیت شورا ۱۵ غړو هېوادونو د رایو په اتفاق سره وویل، چې د ښځو پر زده کړو، کار، د سفر آزادۍ او په عامه ژوند کې د دوی پر بشپړ، مساوي او معنادار مشارکت د محدودیتونو د وضع کولو په اړه اندېښمن دي. په دې منځ کې د ښځو پر سفر او تګ راتګ بندیزونه او محدودیتونه داسې ښکاري چې د سلیقوي چلندونو له کبله ښایي ډېرې ستونزې راوټوکوي، په ځانګړې توګه هغه ښځې چې د کورنیو سرپرستانې دي. داسې ښکاري چې د ښځو اړوند قضایاوو په برخه کې ځکه زیات حساسیتونه موجود دي، چې په تېرو شلو کلونو کې په دې برخه کې خورا زیات افراط او تفریط شوی او د ښځو له قضیې څخه د افغاني کلتور او مذهب خلاف استفاده شوې ده. همدا لامل دی چې په دې برخه کې طالبان هم خورا زیات حساس دي.

په ټولنیزو مسائلو کې بله قضیه د بیان د آزادۍ قضیه وه. په ډېرو مواردو کې خبریالان او ځینې مدني فعالان ونیول شول او په ځانګړې توګه د اسلامي امارت خلاف هر ډول تظاهرات او مدني فعالیتونه په سخت ډول وځپل شول. دې چارې پراخه وېره او نهیلي راوټوکوله او په یو ډول یې د ټولنیز استبداد مظهر وړاندې کړ. ان تر دې چې د اسلامي امارت د مشرتابه له لورې د یوه فرمان په صادرولو سره پر حکومتي چارواکو بې ځایه نیوکې ممنوع بلکې د تعزیراتو او سزا وړ وبلل شوې. نیوکه دا وه چې که لاریونونه او یا مدني فعالیتونه او پر حکومت نیوکه ونه شي، خلک به څه ډول خپلې ستونزې تر چارواکو رسوي او څه ډول به د عامه چارو په برخه کې شته ستونزو څخه خلک خبرېږي، حال دا چې د شکایتونو رسولو هېڅ کوم میکانیزم هم نه دی وړاندې شوی.

په دې توګه که په تېر کال کې د ټولنیز وضعیت لنډه ارزونه وکړو، ویلی شو چې د ځینو ټولنیزو ستونزو له منځه تللو لکه بدحجابي، د افغاني کلتور او مذهب خلاف نشرات او داسې نورو ترڅنګ، ټولنیز وضعیت ډېر ښه نه و او د بېلابېلو عواملو له کبله پراخه ټولنیزه نهیلي موجوده وه، چې له کبله یې زیاتو افغانانو د کال په جریان کې له هېواده د وتلو هلې ځلې هم کولې.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## راتلونکې سيناريوګانې

**سياسي وضعيت:** له سياسي اړخه د تېر يوه کال تر ټولو مهمې ستونزې د نظام داخلي او نړيوال مشروعيت و، ځکه اسلامي امارت نه کوم هېواد په رسميت وپېژانده او نه دوی د نظام د اوږدمهالي داخلي مشروعيت لپاره کوم ګام واخيست، نو ځکه اوسمهال په دې برخه کې دوې سيناريوګانې شته دي. لومړی دا چې طالبان په اوسني ډول بلکې له همدغه سرپرست حکومت، اوسني سياست او د نظام په اړه د ابهام له وضعيت سره لږ تر لږه د راتلونکي کال لپاره هم مخکې ولاړ شي، چې په دې صورت کې به د افغانستان سياسي انزوا دوام مومي او په داخلي کچه به مخالفتونه او نارضايتې زياتېږي. دويم دا چې طالبان په ځينو برخو کې اقدامات وکړي او نرمي وښيي، په ځانګړې توګه د اساسي قانون لپاره کميسيون وټاکي او د خپل نظام نوعيت او راتلونکې برخليک روښانه کړي، د نجونو د تعليم قضيه حل کړي او هم د هېواد په سياسي برخليک کې د عامو افغانانو رول روښانه کړي، او د دې ترڅنګ له نړيوالو سره په ځينو برخو کې تفاهم زيات کړي، نو په دې صورت کې به ممکن نه يوازې په داخلي کچه د نارضايتۍ کچه کمه شي، بلکې ځينې هېوادونه ښايي چمتو شي چې اسلامي امارت په رسميت وپېژني، ځکه په اوسني وخت کې له نېکه مرغه هېڅ هېواد هم د اوسني نظام پر وړاندې د نظامي مخالفت ملاتړ نه کوي. ظاهرا داسې ښکاري چې د اسلامي امارت مشران له نړيوالې ټولنې سره په چند کې توند دريځ لري او ډېری هغه څه ته چې نړيوال يې غوښتنه کوي د شک په سترګه ګوري. همدا لامل دی، چې د اسلامي امارت رهبر شيخ هبت الله اخندزاده په کابل کې د علماوو د غونډې پر مهال وويل: «د نړيوالو فرمايشونه نه منو، حتی که اتوم بم هم راباندې وکاروي». له دې کبله غالب تصور دا دی، چې له سياسي پلوه به د اسلامي امارت او نړيوالې ټولنې ترمنځ اړيکې ډېرې ونه غوړېږي.

**اقتصادي وضعيت:** له اقتصادي پلوه د هېواد راتلونکی وضعيت هم نېغ په نېغه له سياسي وضعيت سره تړلی دی، ځکه که اسلامي امارت وتوانېږي د نړيوالې ټولنې قناعتونه حاصل کړي او په پايله کې يې د ځينو هېوادونو له لوري په رسميت وپېژندل شي او يا لږ تر لږه له نړيوالو سره په اړيکو کې تفاهمات او توافقات زيات شي، نه يوازې د افغانستان کنګل شتمنی به آزادې شي، بلکې پر هېواد به بنديزونه هم ختم يا ډېر راکم شي، کوم څه چې مستقيما د هېواد پر اقتصادي وضعيت او د عامو افغانانو د ژوندانه پر وضعيت مثبتې اغېزې ښندلی شي. په اقتصادي برخه کې داسې ښکاري چې په هر صورت به د هېواد وضعيت د ډېر خرابېدو په لوري ولاړ نه شي، ځکه تېر کال ثابته کړه چې پر اسلامي امارت له بنديزونو سره سره نړيوالې مرستې له بندېدو وروسته بېرته راجلب شوې او دلته يې بشري بحران تر ډېره بريده کنټرول کړ. د دې ترڅنګ د اداري فساد ختمېدل يا لږ تر لږه تر ډېره حده راکمېدل هم د دې لامل شوي چې د هېواد اقتصادي وضعيت د ښه والي په لور ولاړ شي.

**امنيتي وضعيت:** له امنيتي پلوه داسې ښکاري چې راتلونکی کال به د تېر کال په پرتله وضعيت لا ډېر د آرامۍ په لوري ولاړ شي، ځکه په تېر کال کې له يوې خوا د طالبانو حکومت نوی، امنيتي ځواکونه غيرمنظم، او حکومت له نورو ډېرو ننګونو سره مخ و. په امنيتي اړخ کې له نېکه مرغه اوسمهال ښکاري چې هېڅ هېواد هم په افغانستان کې د نظام د بدلون لپاره د وسله وال مخالفت ملاتړ نه کوي، او دا چې طالبانو ته د تېر نظام پراخ پوځي تجهيزات ورپاتې

دي او هم يې امنيتي ارګانونه ورځ تر بلې منظم کړي دي، داسې ښکاري چې په نږدې راتلونکې کې کوم داسې جدي امنيتي ګواښ نه ليدل کېږي، چې د هېواد امنيتي ثبات له جدي ګواښ سره مخ کړي.

**ټولنيز وضعيت:** د ټولنيز وضعيت راتلونکی تر ډېره تت ښکاري، ځکه ټولنيز وضعيت تر ډېره د اسلامي امارت له سرسختو پاليسيو څخه نېغ په نېغه اغېزمنېږي. په دې برخه کې د نورو لومړيتوبونو په پرتله د ښځو اړوند مسائلو ته د اسلامي امارت د سرپرست حکومت ډېره توجه د دې ښکارندويي کوي، چې ځينې ټولنيزې آزادۍ ممکن ورو ورو نورې هم محدودې شي او ان خلک داسې تصوروونه هم له ځان سره لري چې يوه ورځ به بيا هم د طالبانو د تېر نظام په څېر د جماعت لمانځه ته د نه تللو له کبله له وهلو او ډبولو سره مخ کېږي؛ ځکه د تېر کال په اوږدو کې هم په لومړيو مياشتو کې په دې برخه کې ډېر محدوديتونه نه وو، خو وروسته بيا د امربالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له لوري ځينو فرمانونو دا وضعيت بدل کړ. په دې برخه کې په ځانګړې توګه داسې ښکاري چې که له شپږم ټولګي پورته د نجونو د تعليم قضيه هواره نه شي، نو دا به نه يوازې په ملي کچه نارضايتي نوره هم زياته کړي، بلکې په نړيواله کچه به هم د طالبانو د نظام لپاره ننګونې ورځ تر بلې زياتې کړي. په وروستي مورد کې د بښنې نړيوال سازمان د طالبانو حکومت له يوه کال پوره کېدو سره له نړيوالې ټولنې غوښتي چې د طالبانو پرضد بايد عاجل اقدام وکړي، ترڅو طالبان د بشري حقونو نقض ته د پای ټکی کېږدي. دغه سازمان ويلي چې طالبانو د بشري حقونو کليدي بنسټونه په سيستماتيک ډول منحل کړي، د بيان ازادي يې محدوده کړې، او ګڼ افغانان يې توقيف، شکنجه او حتی وژلي دي. په دې توګه ښکاري چې د اسلامي امارت د ځينو تګلارو له کبله بنايي نړيوال غبرګونونه ورو ورو لا ډېر جدي شي او اسلامي امارت ته به ورځ تر بلې ننګونې زياتې کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

---

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بداينې لپاره فعاليت کوي.

**له موږ سره اړيکه:**

ايميل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com
وب سايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net
شمېره: +۹۳۷۸۶۰۰۹۶۹۹

---